ستر کي دي راواړوه ساقي شراب دي واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډېره ده

# د سایل نغمې



د رحمت شاه سایل د شعرونو غورچاڼ

ټولوونکی محمد یوسف افغان

ټول حقوق زموږ سره خوندي دي


## د کتاب په اړه

د سایل نغمې

راټولوونکی ............ محمد یوسف افغان

خپروونکي ............ صدیقي خپرندویه ټولنه

چاپکال ............ ۲۰۰۹

بیه............ /۷۵

# د رحمت شاه سایل لنډه پېژندنه

رحمت شاه سایل      د مقاومت یو باشعور شاعر دی هغه خپل ټول هنري نزاکتونه په خپل ښکلي شعر کي راوړي دي د هغه شعر د پښتون ملت د جذباتو احساساتو او تمایلاتو نماینده دی سایل د غمجنو ساندو شاعر دی د هغه شعر د درد له رنګه رسم شوی دی او زخمونه پکښي نغښتي دي د هغه اشعارو څخه د غلامی د ژور احساس بوی هم راځي او هغه په ډاګه دا خبره کوي چي د غلام قوم د مینې رنګ هم غلام وي سایل غونډي ښکلي او ملي شاعر د خپلواک او مسلمان هیواد د محبسونو په کړغېړنو سایو کي هم وختونه تېر کړي یو خلي سایل د مزدورانو یوې غونډي ته په وینا کي وویل چي هر فرعون، هر شداد، هر یزید، هر شمر، هر جابر، هر هټلر ټول برباد برباد دي باغي افکارو د وخت فرعونان او یزیدان وتهرول او جامي وربانـدي تنګي شوې همدا لامل دی چي سایل تـه د مزاحمت شاعر ویل کېږي هغه د پښتون قام لپاره مزاحمت کړی دی په رحمت شاه سایل غونډي فیلسوف شاعر پښتون قام ویاړي دا وخت په پښتو ژبه کي څلور داسي شاعران وجود لري زما په اند هغوی داوسني پښتو شعر حدود اربعه دي لکه عبدالباري جهاني، رحمت شاه سایل، عبید الله درویش او پیر محمد کاروان.

محمد یوسف افغان، کوټه

چرته چي د چا وي قوميت غلام
هلته خامخا وي محبت غلام

مينه اې غريب زړګيه! مه کوه
دلته کي دی حُسن د دولت غلام

زه ننګ د پښتو لرم همت لرم
نه شم زه کېدلای د قسمت غلام

څو چي وي موجوده نظام د زور او زر
دې کي به وي تل انسانيت غلام

خکه دی يقين په آزادی زما
نه يم پيدا کړی زه قدرت غلام

دې آواز ته کوم زنځير د تينګې دی
نه يم زه غلام نه مې ملت غلام

## رنګين منظر

شبنم نه وو سپرلی وو ژړېدو د ګل په شونډو
ژوندون وو د ګل پخپله رژېدو د ګل په شونډو

آدم ورته کتل درخويې هم تماشه وکړه
ماشوم احساس د مينې ورتېدو د ګل په شونډو

ګلشن د بېوسی يوه پرېشانه معمه وه
عظمت د حُسن رو رو سوزېدو د ګل په شونډو

سکنړي سکنړي مابنام کې تنورونه چالمبه کړه
د ژوبل شفق سوری رپېدو د ګل په شونډو

چا شپېلی په سوکه د کوم غر په ژړېدو کړله
دا چې زلزله شوه دا د چا د زنځير شور شو

ستا د پښتنو سترګو دا لوی.ښکلی پښتون وطن
يه جانانه! نه مي پکي کور شو او نه ګور شو

جنګ شو تل مي جنګ شو د ظالمي زماني سره
زه شومه تل زه شومه تل ظلم شو تل زور شو

دا زما پښتون عشق چي سبب د انقلاب نه شو
خپل احساس مي وژني خپل قلم راته پېغور شو

## رسوایي

پټ پټ مې ډېر د زمانې نه په ژړا وژړل
ستا هغه پټ پټ ناروا ظلمونه ما وژړل

ما زړه ته ډېرې دلاسې ستا د وفا ورکړې
تا مې خپېرې د لاسو ته د جفا ورکړې

ما پخپل روح کې تا له پټه جوړوله دنیا
ما جوړوله دنیا تا به ورانوله دنیا

ما پښتو درکړه ژوند مې درکړو چې مهمان مې شوې
تا زهر راکړه په خندا کې چې مېزبان مې شوې

ما د خپل فکر عطر وشیندل د ستا په خاطر
تا په خوږه خوږه اور پورې کړو زما په خاطر

تا د اقرار د خطایی نه ډېره منډه وکړه
ما دي د سترګي جدایی نه ډېره منډه وکړه

تا د سایل د اشنایی نه ډېره منډه وکړه
ما هم والله د رسوایی نه ډېره منډه وکړه

نن د حالاتو د چړي د لاندي ساه اخلم
هر څه چي کیږي خو نامه دي خامخا اخلم

## اشنایي

اغزي راته په سترګو کي ماتیږي خو بیاهم
د ګل د خوږي میني د غرور سره اشنا یم

لمبې مې ستا د حسن که معراج وي د ارمان

بيا زه خو د ازل نه ستا د نور سره اشنا يم

## ګل لاله

سور ګل لاله يم د زړه داغ ته په خندا يم

رنګ په وينو پروت لکه شهيد د کربلا يمه

ولې دي د خپل نظر د پاک جنت نه وايستم

نه خو زه آدم يم نه غنم خورم بې ګناه يمه

(۷)

دا خير دی که څوک ما غوندي بدنام پهٔ کانو ولي

خو دا عجيبه خلک هر نېک نام په کانو ولي

د ستا په مست نظر کې ډاډ د چا دی پرې پوهېږم
پوهېږم چې د پاکې مینې قام په کاڼو ولې

مرګ څه وي! ولې کاش چې په دې مړه معاشره کې
د وهم لېوني د ژوند پیغام په کاڼو ولې

په کوم لوري مې بیایې اې زما مجنونه عشقه!
چې دا د کلي خلک مې هر ګام په کاڼو ولې

ښایست که څه مقام لري خو دا اعجاز د عشق دی
دا ولې ښکلي خلک خپل مقام په کاڼو ولې

زموږ د مینه مستو لېونو لاري چې نیسي
ناکامه رقیبان دي خپل انجام په کاڼو ولي

## د ژوند تپه

د ژوند تپه وه که شپېلی د اسرافیل خونه وه،
چې مړه ژوندي شو د ژوندو سره خبري کوي

د خپل اولس د آزادی د محبوبې په خاطر
ننګیال زلمي د زولنو سره خبري کوي

## بې رحمه زړه

تاو دي نظر ته دو مره مه ور کوه
پام هسي نه چې دي بانه وسوزي

ستا په بې رحمه زړه چې ځای نه شمه
زما پخپله په خپل زړه وسوزي

## د شکاګو وینه

مزدوره! تا ته د شکاګو شهیدان مزدوران
په ګرمو وینو کې لړلی یو پیغام درکوي

د وچو شونډو تر سکېدونکو آخري سلګونه
تا ته ستالاس کې د ژوندون د اوبو جام درکوي

په سرو سرو وینو کې د ډوبو خمارو سترګو نه
د قتل شوو تنکو سرو ګلو انعام درکوي

د خپل پرېکړي قربان شوي سر مستی نه در ته
د ژوند مستي درکي سبق د ننګ و نام درکوي

د دې ظالم سپېره بدبخت قاتل نظام په بدل
د سرېتوب نه ډک د مینې پاک نظام درکوي

د خپل تریخ ژوند د څو ترخو لمحو نه درته
د دې دنیا واړه خواږه په احترام درکوي

خواې مزدوره! دا پېغام په احترام واخله
په خپلو لاسو کې د خپلو وینو جام واخله

په بلېدونکو لمبو پښې کېږده او ګام واخله
د هر ظالم د هر سامراج نه انتقام واخله

انقلاب راوله په خپل لاس کې نظام واخله
خواې مزدوره! دغه لار د فریادونو نه ده

د ژړاګانو اوښکو نه ده د ویرونو نه ده
په دغه لار کې سنګینونه شته سنتونه شته دي

په دغه لار کې زنځیرونه شته دارونه شته دي
په دغه لار کې سرې لمبې شته دي اورونه شته دي

په دغه لار کې بمونه شته ګیسونه شته دي
دغه منزل ته به په سرو لمبو کې تلل غواړي

که چرته دام مخکې راځي نو به شلول غواړي
که چرته دار پېښ شو په سر به یې ګډېدل غواړي
که زنځیر وو هغه به غوټ غوټ ماتول غواړي

## غزل

ن دمیني په وطن کې د دیدن ګرانه ګراني ده
خه د اوښکو قیمت نشته خه د وینو ارزاني ده

کومه پرخه ده چي ژاړي هغه کوم ګل دی چي خاندي
په ژړا هم پابندي ده په خندا هم پابندي ده

د ګلونو سندرغاړو سپرلي خيالو شاعرانو
راشئ ګېره په لمبو کي د سپرلي مسته خواني ده

چرته لاړې اې د زلفو په تالونو زنګېدونکو!
نن په زلفو د صنم کي د بارودو خوشبويي ده

د احساس د ګل په شونډو د اور سرې سکروټي پړدمه
دغه لوبه د هوس ده. بهانه مي مجبوري ده

چي د خان د غمه ژاړم د ظالم د منځه خاندم
څه خو دي چي مي د داسي ستمګر سره ياري ده

ـي په خوږ زړه مي امبار دی درد و غم د غم زپلو
ـا غريب مه ګڼئ خلکو! دا مي لويه باچايي ده

ـلته وېني څښل حلال دی دلته اوښکي څښل حرام دی
ـلته هغه زندګي ده، دلته دغه زندګي ده

زه هم يو انسان په دې وطن کي زېږېدلی يم
دلته د ژوندون د تيرولو حق لرم که نه؟

زه چي حيوان نه او يو انسان خدای پيدا کړی يم
دلته کي د خولې د پرانستلو حق لرم که نه؟

زه چي د پښتون په نوم دا دومره قامولی لرم
نو بيا د پښتنو د يو کولو حق لرم که نه؟

زه دي سترګي وګنډم او نه دي اورم چپ دي يم
څه هم به د سترګو غړولو حق لرم که نه؟

غير خو دي زما په ذلت خاندي ښه دي وخاندي
خو زه پري د څو اوښکو څڅولو حق لرم که نه؟

ما ته خداى پښتون قلم پښتو ژبه راکړې ده
زه پـري د اولـس د رابللـو حـق لـرم کـه نـه؟

څه وکړم شاعر يم د احساس تنور کي سوزمه
لاس کي مي قلم دى د ليکلو حق لرم که نه؟

اې د حق غوښتونکو حق پرستو يو تپوس کوم
اې د لوى انسان په مينه مستو يو تپوس کوم

## غزل

زما د ترمو وينو جام واخله
راشه د نوي ژوند پيغام واخله

د ژوند په لاره که زما سره ځې
په لمبو پښې کېده او ګام واخله

ستا په نظر کي مي پښتو وليده
راشه دا خوږ زړه مي انعام واخله

په خلې مي مهر دی ويلای نه شم
په سترګو سترګو کي سلام واخله

لږ خو ته هم زما د ميني په سر
کېدی ګلونه د الزام واخله

ملا که زه دي کړم کافرنو خیر دی
خو د یار نوم په احترام واخله

نن یې په سترګو کې بس دومره اور دی
د سحر زړې په مابنام واخله

سایله! ګل دې چرته ونه ریږي
بوسه ترې واخله خو په پام واخله

## نن

راشه اشنا! نن مې حالت د بې وسۍ وګوره
چې خپل ټکرې ټکرې زړګی راټولولای نه شم

ستا بېلتانه په شونډو مهر لګولی زما
سپرلی دی ټول ګلونه خاندي زه خندلای نه شم

ستا که تسلسل د ستمونو ماتېدای نه شي
پام رقيبه! دا تړون د زړونو ماتېدای نه شي

زه چي زلمی زړه لرم په فکر کي مستي لرم
چا ويل چي قانون د زنځيرونو ماتېدای نه شي

زه پښتون پيدا يمه پښتون به يم پښتون به مرم
دغه آيينه په فريبونو ماتېدای نه شي

تړې دی د زړه د وطن ټول اولس مي تړی دی
تنده مې سين غواړي په جامونو ماتېدای نه شي

سره شئ لېونو زور آور بې د زوره نه تښتي
خوله د استعمار په فريادونو ماتېدای نه شي

ژبه مي ده کړې سوداګره چې پښتون ګټم
دې کي ده پښتو په دولتونو ماتېدای نه شي

موږ دانا الحق مجرمان موږ لېوني د ژوند
دا د سر نشې مو په دارونو ماتېدای نه شي

دا زما قلم د يو مجبور د يو سايل قلم
دا د زر پرستو په لاسونو ماتېدای نه شي

زړه که مي ډېر غواړي د زلفو په تالونو کي خوب
ملګرو! چرته دی زموږ په قسمتونو کي خوب

د خوبولو ستر ګو غېږي دي منم خو اشنا
چا له به ورشي په شړنګا د زنځيرونو کي خوب

ستا د ښایست سپرلی بس دومره قدرې وکړه اشنا
لکه د ګل کوم د زړه په پرهرونو کې خوب

ـن دي خالونه څه چل دی د اننګو ویده دي
دا کوم اعجاز دی چې کوي په انګارونو کې خوب

لېونی څه وي خو هم داسې لکه زه او ته یو
نه مو په سترګو کې خوب شته نه مو په زړونو کې خوب

ساقي! زما د زړه مستی کې خلل مه اچوه
ستا په شرابو کې دی خوب ستا په جامونو کې خوب

د شوګیرو د تسلسل کیسه بس لنډه دا ده
راغی په سیوري د ویستلو سنګینونو کې خوب

ستا انتظار دی اشنا ستا د قیامت خیزه دیدن
هرې ښکالو مې ورک کړو ستا په قدمونو کې خوب

سایله! خدای زده چې پرهوتې یې بانه ولې دې
زلمي خونه کوي د جنګ په سنګرونو کې خوب

❀

چې یې د سترګو په ښو ذرې ذرې شي غزل
ژوند مې سکوندې لشي لشي ازغی شي غزل

د درد ډېر دلي زړه دردونو له سکون راوړي
خیر که نظر کې د حالاتو لړونی شي غزل

که په کې رنګ د پښتنو زلمو د وینو کړ شو
لري به نه وي چې د پیغلو ترانې شي غزل

زما د نغمو د زخمونو د صداګانو په ژبه
ذکر د یار راته په پښتو کې زولني شي غزل

عنبه ستورو چې سپوږمۍ تندر نیولې ده خو
عایوسه عه شي اوس تر داره وسپړی شي غزل

په میخانه کې که ساقي دستور بدل که خیر دی
د چا د وچو وچو شونډو په لوګي شي غزل

سایله! عنبه چې زړه د بوتانو نه لري
خو اوس د دور په حالاتو ژړېدای شي غزل

## زما ګلابه سلام

د تنګ په لار کې راته نه شې خندو خار ګلابه
ستا مسکیتوب ستا خوږه مینه خوږ دیدار ګلابه

خپل زړه به خورم وینې به څښم هم به هډوکي شپیلم
زه یم روان په داسې سخته کړاکه لار ګلابه

زه په تیندک تیندک په ستړې مزل ښه ښکارمه
ته د سحر په پرخه لوند په خپل ګلزار ګلابه

ستا په سرخی ستا په شوخی ستا په ښکلا مې قسم
ما ته د ستا یخ اننګی دی سور انګار ګلابه

تا نه خفه نه یم خو تا خفه کولای نه شم
چې درته وکړمه د خپل زړګي اظهار ګلابه

مـا نــه د ولــي تپــوس مــه کــوه بخــښنه غــواړم
زه چې تــه خمــه مــا تــه وکــړه انتظــار ګلابــه!

زه چې تــه لــري خــم خــو ګــوره چــي واپــس راخمــه
چي ستا ډېر خوښ وي زه به تا ته داسي ځيز راوړمه

(۷)

چي پــه خندا ورتــه د خوږ زړه پرهرونه نه شي
چيري دي هم ستا د ښايست غوټۍ ګلونه نه شي

راشه مظلوم ژوند مي په يو نظر يوه لمبه کړه
چي پــه ظالم زړګي دي پاتې ارمانونــه نــه شي

بيا د جنون ځواني مستي غواړي د مستي ميني
بيا چې تــه خيال د تورو زلفو زنځيرونــه نــه شي

په دعاګانو مې د خوږ احساس دردونه نه ځي
څو چېر ښېرې د شونډو ترېم تکورونه نه شي

وړې مې د روح جنازه چرته د خندا په اوږو
په وینو سره دي ترې شینکي شینکي خالونه نه شي

د نظر غشي د زړګي په چم په پام وروه
چرته زخمي یکي دا ستا نازک یادونه نه شي

خاموشي شونډي مې لوستې بیدارېدې ویل یې
اورونه مه چېړه لوګې دي پرې فکرونه نه شي

ویده دنیا یې د سایل قلمه مه لړزوه
د فریادي اوښکو مات ستوري تندرونه نه شي

## پیدا که

سوزونه سوزونکي په سازونو کې پیدا که
نغمې د انقلاب په زنځیرونو کې پیدا که

اې بس د یو انسان په نامه پورته شه قلمه!
مستي او ولولې په سترو زړونو کې پیدا که

لویي د انسان مري د بندګۍ په چاپیر چل کې
زما ژبې جدت په تقریرونو کې پیدا که

زړګیه! وینه ورکړه دا ریګ زار وطن چمن که
ښایست په مړاوو تړو سرو ګلونو کې پیدا که

نظره د نظر هغه صبا ورته بیدار که
ژوندون د مست بهار په پرهرونو کې پیدا که

پیغام د یو بې باکه لېوني انقلاب ورکړه
اې عقله! شور ته ژبې په بادونو کې پیدا که

(۶)

زړه تري را نغاړم خو بیا هم خامخا ستړ کې لګي
د چم خبره ده بېګاه او صبا ستړ کې لګي

د هغه خپله هم قاتل نظر په وس کې نه دی
چې په خطا کړي ستر کې پورته رسا ستر کې لګي

اوس به د دې غمه په دغه کوڅه نه تېرېږم
دلته په مخ د یو بې ننګه زما ستر کې لګي

وعده دې سر و خوري بانې له خو اوس راشه کنه
شپه په وتو ده را خوره شوه رڼا ستر کې لګي

داسې مې ستا مينه په خپل پرهرې زړه ماتيږي
لکه هر وخت چې مې د ګل په خندا سترګې لګي

خـه لـه راتـه وايـې وږي سـترګي دي مړيـږي نـه
لـوږه لېـونى وي پـه پېغـور هـډو پـوهيږي نـه

نـن خـو دي د سـترګو کـږ ليچونـه رقيبـان لګـي
دا غـرور دي ولـې د نظـر نـه جـدا کيـږي نـه

خداى زده چې تري کوم خوا مسافرو کډې وکړلې
نـن پـه دغـه پـوزي چـم هغـه ډيـوې بليـږي نـه

هر ګل راته اوس هم خپل په وينو سور ماضي ښکاري
خداى ګو په سيرلي مې د سيرلي مينه ماتيږي نه

سور کفن ته نن د لاله زیږ نرګس پسخیږي نه
دا پري خور د چا د لوپټې د شفق سیوری شو

(۵)

دا قانون د چا قانون دی دا نظام د چا نظام دی
دلته قید دی هلته بند دی دلته دار دی هلته دام دی

په اظهار د پاکي میني قسما قسم پابندی دي
دالا څرنګې مذهب دی دالا کوم قسم اسلام دی

په دې پاکه ګناه خیر دی ګنهګار سهي پښتون یم
دا مي ورور، دا مي عزیز دی، دا مي کلی، دا مي قام دی

دا چې دې بازار کې کیږي سوداګر و د سرونو
دغه ویش دی که تالان دی، دغه لوټ دی که نیلام دی

زنځیرونه دي او موږ یو، د وحشت باچا ګرځي ده
داد کوم جرم سزا ده دا د څه شي انتقام دی

زه انسان یمه ژوند غواړم د ژوندون حقونه غواړم
دا په ما د څه تور لګي دا په ما د څه الزام دی

که آزاد یم ګرم په څه یم چي باغي د پابندۍ یم
نه مي خیال د چا پابند دی نه مي زړه د چا غلام دی

په دې یو وطن کي اوسو، لږ تپوس کومه صاحبه!
ستا په برخه نیکنامي دي زما مخ دی چي بدنام دی

اې سایله! دو که نه شې په خندا یې مه تېر وزه
دا ساقي نه دی اجل دی ورسره د زهرو جام دی

ستا خوږې مينې ته چې خپل زړګی قريب وينم
ستا د ښايست په آيينه کې ځان غريب وينم

لا په سندره کې مې ستا مينه چېړلې نه وي
چې په دام ښه کېږدم او مخې ته صليب وينم

ستر ګو ړندې شئ خو ښتو مې بې غروره نه کړئ
هسې نه چرته د جانان خوا کې رقيب وينم

زما قلم زما د ژوند تصوير ته چا پرې نه ښود
زه به په خپل ژوند څه خواره د خپل نصيب وينم

نن شراب څښمه خو د خورو په سرو شونډو کې څښم
په دې صلاح کې څوک قاضي او که خطيب وينم

کوچ کوي کډي باروي څوک پښتانه مسافر
نن به که خیر وي نو کنډري د تهذیب ووینم

چې د جنون په کتورو کې درکړي زهر د عشق
سایله! څنګ ته ستا د رنځ هغه طبیب ووینم

## حیا

وخت څه بې حیا شو د حیا نه حیا اخلي
څنګه زمانه شوه د هر چا نه حیا اخلي

وژني مې ملګرو او پښتو مې ماتوي
مینه لېوني شوله زمانه حیا اخلي

مات یې شه په سترګو کې د ګل دخوا ازغیه
کوم نظر چې ستا د ګلستانه حیا اخلي

ستم د شهنشاه به پري اوس بیا ویښول غواړي
خندلي چرته بیا په دې چمن کي سور ګلاب دي

دا تـرږی وچ لیمـــه د کـــربلا تنـــدي وهلـــی
سایله! دوکـه شوی د سراب پـه آب و تـاب دي

ښخ به دي په ستر ګو کي شي خار زړ ګیه! ومنه
مــه کــوه د ګــل اشــنا دیــدار زړ ګیــه! ومنــه

مــړ بــه شــې د تنــدي کــربلا ده د جانــان کلــی
نـشته پـه دې ســتر ګو کــي خمــار زړ ګیــه! ومنــه

تـل بـه استحــصال ســتا د بـې وسـو ارمــانونو کــړي
ښکلی شـان سـامراج وي ښـکلې یـار زړ ګیـه! ومنـه

آدم له بیا چېړلي چا تارونه د رباب دي
فضايي سندريزه کړه نغمې د انقلاب دي

دا توره لويه شپه چې ورته غلې او غوږ غوږ ده
جوړ دوه مين ولاړ چرته په سوال او په جواب دي

دا يو بل چې په ډکو کاسو ولي او مستي کړي
دا ئې په ميخانه کې څوک را غونډ خانه خراب دي

مُلا د ستا دوزخ د خپل جنت نه خبر نه کړم
د لوږې لېوني څه په عذاب او په ثواب دي

زموږ د پاکو وينو نه حساب او نه کتاب شته
د ظلم د ګولو خرڅونه لا په موږ حساب دي

عشق ته قسم ورکړه چي ماته مي پښتونه کړي
بیا مي پښولـه مه اوړه د دلدار زړګیه! ومنه

ستا د ژوند په سمه لا لمبې د مړې کېدونه دي
مه ورکوه زړې د بهار زړګیه! ومنه

ژوند چي در کوي نو خپل ښایست ژوندی کول غواړي
بیا یې دوکه نه شې په اقرار زړګیه! ومنه

تا ته یې نظر په اشاروکي ست د خه کوي
لوټ به دي کړي مه خه په دې لار زړګیه! ومنه

(۵)

زمـا پــه دواړو اوږو ناســتو فرښــتو! ولیکــئ
زما په سر کـه څـه لیکـی نـو پـه پښتو ولیکئ

د پاکي میني ګنهګارو! چي منکر پرې نه شئ
د رقیبــانو الزامونـــه پـــه تنـــدو ولیکـــئ

پــه ښایــستونو پــسې ورکــو لیولــو ملګــرو!
زمـا پـه زړه کـي د ګـل مینـه پـه ازغـو ولیکـئ

زما په لاسو کي په پښو کي دیو تاګانو د وخت
د زنــدګی نــوم د اجــل پــه زولنــو ولیکـــئ

د زنځیر ونـــو خالقـــانو! د وحـــشت څـــامنو!
مـا پـه قطـار کـي د ژونـدون د لیونـو ولیکـئ

اې شاعرانو! د قلم په آزادۍ مينو!
حال د بلوچو ماشومانو د سلګو ولیکئ

د آزادۍ عالم بردارو د نړۍ قامونو!
اوس د نړۍ نقشه کې کور د پښتنو ولیکئ

شګې شګې للمه زمکه ده سور هار دی
د احساس ګل مې موسکې پکې ولاړ دی

څوک هم شته کنه چې دومره خو مې پوځي کړ
دا مې کور دی که مې ګور دی چې لتاړ دی

د ظلمو د الواني وينو په طمع
د ژوندون د شهزادګۍ د شوندو پار دی

(۵)

ملګرو پښتنو! لره پښتو خو کول غواړي
دا سترګي د حالاتو دي کړې سمول غواړي

روان په سپينه لاره وو قيديان آخر په څه شو
زنځير ماتول غواړي دا مزل پرېکول غواړي

انجام يې چې د هري بلا سترګي راته ښايي
دې جام کي که شربت وي او که زهر ګوټل غواړي

يوه د بغاوت تېپه چې سر د تېغه تېر کړي
توکل غواړي سوچ نه غواړي دې دار ته ختل غواړي

د ميني د جدا جدا زړګو کو شيرونکو
دا کور که جوړوې نو خامخا ورانول غواړي

مي كه ور كوى د يخي ويني بې وسى ته
مرې ايرې پو كل غواړي دا اور بلول غواړي

نا د لېونتوب بې له دې بله څه كېداى شي
غر كه د فولادو وي دا سر ماتول غواړي

زيړ زعفراني رنګ پري آخر چا دى اړولى
مخ خو د ژوندون په آيينه كې ليدل غواړي

ي موړ، تږي تري څښي نه شو اغيار ور پكي لامبي
سين كه اباسين شي هم پري اور لګول غواړي

ند ګران دى په دې چم كې د بې سره رقيبانو
خان شته كول غواړي يا تري كډه كول غواړي

نظر چې مې د سترګو په جنت کې لېونی شو
یو شور شو چې سایل په محبت کې لېونی شو

وختونه ورته تېښ شو خو دا سر ورته تېښ نه شو
دا زړه چې مې پښتون شو په غیرت کې لېونی شو

رهبر د زمانې شو یو سبب د انقلاب شو
چې ژوند یې فلسفه شوه مادیت کې لېونی شو

اوس مرد! قلندر شو اوس د وهم نه منکر شو
دا فکر چې زما په حقیقت کې لېونی شو

د دار په سر یې وویل چې باغي یمه منصور یم
جانان ورکړله غېږ چې بغاوت کې لېونی شو

پیغام یې د خوانی او د مستی زړونو ته راوړو
سپرلی چې د موسم په طبیعت کې لېونی شو

لایق شو د بخښني د حساب کتاب نه ووت
سایل د اداګانو په قیامت کې لېونی شو

## سندره

چې پکې ګل شي ستا د غونډې زنې شنه خالونه
هغه سپرلي ته انتظار وکړه
چې ته اوربل خوروې زه پرې ور شیندم ګلونه
هغه سپرلي ته انتظار وکړه
چې ته د سرو ګلو په منځ کې سره ډولۍ ښکاره شې
زه درته چغه په تپه پورته کړم
د غنچونو په سرو پولو ګل دلی ښکاره شې

زه درته چغه په تپه پورته کړم

چي ورته غاړه وخي د لري دوه بايللي زړونه

هغه سپرلي ته انتظار وکړه

چي ته د ګلو تل کي وخاندې په شاوا وړې

ګلونه او رپي چپي چپې شي

چي دې دنيا ته د بنايست بله دنيا راوړې

ګلونه او رپي چپي چپې شي

چي نشه کې په يو ادا د زړه بيدار زخمونه

هغه سپرلي ته انتظار وکړه

چي دي په تراړو تراړو شونډو ګل کړي وچ پاړونه

تشه خندا دي مات زړګي رغوي

چي ګل غوټي دي کړي د مړاوو انګو سرونه

تشه خندا دي مات زړګي رغوي

چي نرګسي سترګي دي سرې شي لګوې چکونه
هغه سپرلي ته انتظار وکړه

هغه سپرلی چي ستا بې وسه پېغلتوب ګل کړي
کړي ښکلاګاني راچاپېره د تا

زما رنځونو زېړ پېړ کړي زلمیتوب ګل کړي
کړي ښکلاګاني راچاپېره د تا

چي شي ښایست نشې نشي خواږه خوبونه
هغه سپرلي ته انتظار وکړه

هغه سپرلی بس راروان دی په ټوپونو راځي
اې د زړګي ملکې! زیری په تا

په دنګو دنګو غرونو راوړي په سمونو راځي
اې د زړګي ملکې! زیری په تا

بیا د همزولو سره وایه د سایل شعرونه
هغه سپرلي ته انتظار وکړه

## زما سندري

د وطن د زړه زخمونه مې را تېول کړه
د ګلونو پرهرونه مې را تېول کړه

د سرو اوښکو تندرونه مې را تېول کړه
د پرهر شوندو پاړونه مې را تېول کړه

د زخمي زړونو دردونه مې را تېول کړه
د دردونو آوازونه مې را تېول کړه

بورنيدونکي سوي زړونه مې را تېول کړه
د زړګو د سر داغونه مې را تېول کړه

د سپيره وو تقديرونه مې را تېول کړه
د رنځورو تصويرونه مې را تېول کړه

ما تري جوړي د سپرلي د خيال نغمې کړې
د زړګو په پوله پوله مې خورې کړې

ما په لمبه لمبه موسم کې شاعري کړې ده
زما غزل د هر ګلاب سره سيالي کړې ده

ما د خپل فن دپاره خوښ کړه د خزان رنګونه
جانانه تا له مې غوښتنه د سپرلي کړې ده

ما د وختونو د نظر نه سترګې ويستې نه دي
ما د اولس د هر اميد ثنا خواني کړې ده

هر څه موې بايله خو د دار عظمت مو لوړ وساتو
دلبري هر څه چې وه موږ دلداري کړې ده

ما ته د دشت د تنهایی پېغور په څه راکوې
ما خو د زړونو په ماتم کي زندګي کړې ده

یار د لالانو په ځای راکړه د خالونو دنیا
ما په دولت د زړه رنګینه جواري کړې ده

ما سایل ستا د غوڅو شونډو ذکر هم کړی دی
ما که کیسه چا ته د زړه د لیوني کړې ده

مور لېوني به د جنون د کوره چرته لاړ شو
ستا د ښایست د لګیدلي اوره چرته لاړ شو

د سترګو تور دي کړو په دواړه جانه تور جانانه
چي تا ته نه ګورو د سترګو توره چرته لاړ شو

د دې کوڅو په هنګامو کې زندګي ده زموږ
که څو نو مرو ستاسو د چم د شوره چرته لاړ شو

هر څه چي کيږي دار ته رسي که ديدار ته رسي
موږ ستا د مينې د رښتيا پېغوره چرته لاړ شو

که زه، او ته، ورسره جنګ نه کوو څه به کوو
د زورور بېلتون د لويه زوره چرته لاړ شو

ستا د نظر کاسې کړې شولې نسکوري مه شه
په موږ خوده خپله دنيا نسکوره چرته لاړ شو

چي ستا د شونډو اور ته خپلي جذبې ګرمي نه کړو
يه د ساېل د ژوبل زړه تکوره چرته لاړ شو

دا پري څه وشو چې مې زړه ورانوي
خلک خو خپل کورونه نه ورانوي

ځو مره نادانه ده په ډک محفل کې
د اوښکو لار په لوپټه ورانوي

چې په خورو زلفو کې ګوتې وهي
خدایه چې نور به پکې څه ورانوي

راغله د سترګو پیماني یې راوړې
زما د خیال صنم خانه ورانوي

خدای خبر دا طوفان د کومې راغی
جانانه نخښې دې د ښه ورانوي

په دمامه د کلي خلک راغله
چینارې وسیزو چینه ورانوي

تماشه سازوي مازیگر سایله
مابسام رقیب دی تماشه ورانوي

۞

د گل په غیږ کي د شبنم قطرې زندگي
فطرته ماله ژړوې که خندوې زندگي

مابه د زړه په رباب نور تارونه نه خیژول
خو ډېره زیاته ترخیده بې له نغمې زندگي

تا ته به خدای زده زور د خپل نظر معلوم وو کنه
ماله دي ډېره کړه رالنده د توبې زندگي

په مازیګر مو تماشې د قیامتونو وکړې
ستا د جبین په بام تس نس شوه د لمبې زندګي

که د خپل نوم نه شرم درغی ساقي نښه به وي
لکه د جام چي مي د شوندو شوکوي زندګي

د زړه د هر پرهر په ګل کي مي رنګ نه ځاییږي
ته ور له هر سحر په کوم هنر راوړې زندګي

چي ستا په لاس نه وي ساقي چي ستا نظر تري وځي
تشه په سرو شرابو نه ده د کاسې زندګي

د خوان سایل نه به زوړ نه شې د پښتو غزله
که یې هر څو لکه د تږمو وینو څکی زندګي

وخته خبر لېږ د دې لارو او کوڅو واخله
يو امتحان د پښتنو نه د پښتو واخله

زه د حالاتو شهيد. ته د الزامونو ژوبله
ما د لوندو بڼو په ماتو څو کورو واخله

خلک د وخته څان له يو خوابل خوا سيوري ګوري
موږ دغه څو لېوني پاتې په غرمو واخله

لکه د غر د بې حسي په واورو پټ زړګيه
ويلې به شي څو لږ. تاوده د اسويلو واخله

اې مصوره که حاجت دي وي غمژن رنګونه
راشه تصوير زما د پولو او پټو واخله

په مزار يې ظلمه راشه تماشې دي
پرې ګېدې د سرو ګلونو ګل اندام پڼدي

د تودو وينو ډيوې په لاسو راغلې
د نظر غمې پرې حورې د باګرام پڼدي

د پرهر پرهر زړو په سور سپرلي کې
د ژوند ناوې د ډولی کوزه شوه ګام پڼدي

خپل شهيد ته خپل ښاغلي مېړني ته
په غلبل سينه دسمالې د آرام پڼدي

اوربلونه تري لوګې د خويندو ميندو
لوپټې پرې ګلالی په احترام پڼدي

تول نظر مي سپيلني هغو زلمو ته
چي سرونه د خپل قام په ننګ ونام بږدي

هسکي کړې يې غړى د پښتنو دي
په تندي ورته سايل لاس په سلام بږدي

زه او جانان په سر د نوي ژوند الزام اخلو
خو! د الفت د هر الزامه انتقام اخلو

وخت دي زموږ نظر له هم اوس زولنې جوړې کړي
موږ چي په سترګو کي د يو بل نه سلام اخلو

وخته دا چا ته دي په هره لار لمبې بلې کړې
موږ خو د شمعي د لمبو نه هم پيغام اخلو

راديي شي دغي تماشي له رقيبان وختونه
موږ خو په دار هم د يو بل دلاسه جام اخلو

د روڼ جبين د لمبه شوو دعاګانو سره
موږ ښېرې د يار د خلې نه هر ماښام اخلو

خوږ تصور د يو جنت د نظارو رابخښي
موږ که په دې کوڅه کې ساه اخلو که ګام اخلو

د يو غمجن نظر د وريت مازيګري په خاطر
ګلونه نه اخلو موږ خاوري د باګرام اخلو

د دنيا خلک دې په موږ بدګمانه نه شي
موږ خو سندرو له د ميني نه الهام اخلو

سایله څوک چي احترام معنا کولای نه شي
مور د هغې خلکو نوم هم په احترام اخلو

مور په دغه بام د قیامتونو نظارې کوو
هره ورخ هم داسي لېونی مازیګری کوو

خود به دي خالونه په جبین د زړه د وینو بړدم
غم که په دې دشته کي د ګل د منجرې کوو

هسي مو په پوله پوله رنګ د زړګي توی نه کړو
مور د ښایستونو پسرلي ته تیاری کوو

پرخه د شرابو به د هر ګلاب په شونډو وي
مور چي کوم سحر ته انتظار او شوګیرې کوو

پټ مو درنه څلې د څوانو د ارمانونو کړه
داسې احترام دي د قامت د منارې کوو

ټکنې غرمې مو تل تلې تندي سبزلي دي
چا ته به کیسه د ریګزارونو د میرې کوو

ستا نوم مو د خلې نه پوهه نه شو په خطا وځي
موږ چې په دې کوڅه کې هر چا ته نعرې کوو

راشه چې د زړه ماتم په شونډو کې سندري کړو
فرق خو به څه د ادیرې او د دیرې کوو

موږ د وینو رنګ د لمبو رنګ د سرو ګلونو رنګ
راوړو د شیرینې سور سالو له کنارې کوو

موږ خو سایله د دروغو لېوني نه یو
موږ په دار خبره د جانان د اشارې کوو

## سندره

لرې د نفرت د دېوالونو ولاړه وه
څنګ ته د بهار د سرو ګلونو ولاړه وه

کاش دغه انداز مي په غزل کي ځایولای شوای
کاش چي مي تصویر د دې ادا نه جوړولای شوای

څوک ده چي په ځان د آیینې غوندي حیرانه ده
څوک ده چي ګلونه پرې وریږي پرېشانه ده

څوک ده چي د بت هسي ګونګې سونګې ولاړه ده
څوک ده چي دورک فکر په بام سپوږمۍ ولاړه ده

کاش دغه انداز مي په غزل کي ځایولای شوای
کاش چي مي تصویر د دې ادانه جوړولای شوای

داچي يې په پټه خوله کوله د زړګي کیسه
داچي وه په خپله ټوله ټاله د سپرلي کیسه

داچي لکه ګل د بیابان تنها ولاړه وه
دابه خدای خبر په انتظار د چا ولاړه وه

کاش دغه انداز مي په غزل کي ځایولای شوای
کاش چي مي تصویر د دې ادانه جوړولای شوای

په سایله پټ يې په نظر کي تندرونه دي
شونډي کي پرانیزي قیامتونه دي

زلفو کېدې په سر ولاړه ده
خاندي د خورو
لمبو په غر ولاړه ده
پېغلـه ده د حسن :

کاش دغه انداز مي په غزل کي خايولای شوای
کاش چي مي تصوير د دې ادا نه جوړولای شوای

## سندره

د ډکو ډکو خمارو سترګو غمجن رنګونه
د نوي کال تحفه جانان ته وړمه

په سرو لمبو کي د وطن د ګل درو ګلونه
د نوي کال تحفه جانان ته وړمه

ما ويل د ژوند د پسرلو خيالونه
به په سندرو کي را ونغاړمه

ما ویل د شونډو اور د سترګو نښې
به د دې پولو پټو اوتروړمه

ما ویل را ټول به کړم د پیغلو د جبین خالونه
د نوي کال تحفه جانان ته وړمه

ما ویل د زړه د وطن ټول زخمونه
راټولومه خو را ټول مې نه کړه

ما ویل خوږ شوي پاڼي زړونه
راټولومه خو را ټول مې نه کړه

ما ویل د ګلو تبټېدلي وار خطا خوبونه
د نوي کال تحفه جانان ته وړمه

ما ویل رنګونه د ګودر راوړمه
خونه لمبې نه لوپټې ښکاره شوې

ما ویل جذبې د مازیګر راوړمه
خونه منګي نه غرغرې ښکاره شوې

مجبوره ژونده اوس به څه خالي خالي لاسونه
د نوي کال تحفه جانان ته وړمه

ما ویل غاټول ما ویل ریدې به کړمه
په وینو لاسو کې غنچې به یې کړم

ما ویل شړشم او زیړ ګلي به کړمه
په وینو لاسو کې غنچې به یې کړم

ما ویل را تول به کړم د خپله خانه ورک فکرونه
د نـــوي کـــال تحفـــه جانـــان تـــه وړمـــه

مـــا ویـــل د زړه د ارمـــانونو نـــه بـــه
د محبـــت د کـــور ډولـــی جـــوړوم

مـــا ویـــل د مینـــي د ســـندرو نـــه بـــه
خپلـــي دُرخـــو لـــه ســـهېلی جـــوړوم

ما ویل ګل پاڼي به وچو شونډو کړم پاړونه
د نـــوي کـــال تحفـــه جانـــان تـــه وړمـــه

مـــا ویـــل سـایل بـــه تـــول غـــزل کـــړم
د خپـل جانـان پـه شـونډو شـور بـه یـې کـړم

ما ویل هر زخم د زړګي به ګل کړم
د یار په سپورو زلفو خور به یې کړم

خو اوس چې وړم نو وړم د زړه خواږه خواږه زخمونه
د نوي کال تحفه جانان ته وړمه

## ساقي

ستړګي دي را واړوه ساقي شراب دي را واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

زه چې ساقي ستا په شان خمار ساقي لرم
ستا د مستو سترګو سره داسې اشنايي لرم

زه چې دا ګلاب ګلاب لمبه لمبه ځواني لرم
یو لاس کي جنت بل کې تصویر د پسرلي لرم

زه به شراب و نه څښم ساقي شراب دي واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

زه به مستانه زړه په شرابو نشه نه کړمه
ويښ ويښ پرهرونه به د خپل زړه ويده نه کړمه

خوند به د دردونو په شرابو پیکه نه کړمه
زه به مستانه جذبې په خپله دوکه نه کړمه

ولې شراب وڅښمه ساقي شراب دي واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

زه د زړه د ځریکو نه سندري جوړولای شم
زه د یار په یاد کي پرهرونه خندولای شم

زه د جانان سرې سترګې په سترګو ښکلولای شم
زه د یار د زلفو په بڼ هر وخت الوتلای شم

زه به شراب څه کړمه ساقي شراب دې واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

زه خو لا زلمی یم ساقي زه خو لا زلمی یمه
ګل یمه په خپلو پرهرونو کې موسکی یمه

لا خو زه لایق د نشې نه د تماشې یمه
لا د زړه په دشت کې غوړېدلی پسرلی یمه

څه دې په شرابو کې ساقي شراب دې واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

ولي خپله مسته شان خواني په تیند کونو کړم
ولي خپل ګلاب ښایست لوګې په انګارونو کړم

ولي مې دنیا خاوري ایرې د ارمانونو کړم
ولي په خپل لاس قتل ګلونه د فکرونو کړم

چیري به ونه ځښمه ساقي شراب دي واړوه
زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

لا خو سایل سر د غر سره هم جنګولای شي
لا خو سایل اوس هم د ژوندون په دار ځانګلای شي

لا خو سایل شته د محبت نغمې ویلای شي
لا خو سایل خپل جانان ژړلای شي ستایلای شي

څه د پاره وڅښمه ساقي شراب دي وا ړه

زه پښتون زلمی یم زما خپله نشه ډیره ده

د چا چي فن د چا د ژوند ترجماني نه کوي

هر څه چي وکړي خو په زړونو سلطاني نه کوي

هلته جونګړې او کنډرې هم آبادي ښکاري

چرته چي زړونه دلبري کوي خاني نه کوي

چي غم مو یو درد مو شریک دی دا جدا ولي یو

د غم په غولي کي خو خلک خان خاني نه کوي

د ګناه زهر که مو څه هم په رګ رګ کي زغلي

ستر ګي او زړونه مو اوس هم بې ایماني نه کوي

د وطـن خلکـو نـه حـالاتو مینـي وتروړلـې
څه به کوي چي په يو بل بدګماني نه کوي

خواږه کاتـه او هغـه هـم د چا سايل پـه طرف
په دې هوښيار وخت کي څوک داسي ناداني نه کوي

(۲)

د ژونـد سپرلی يـم پـه جهان ورېږم
د مينـي ګـل يـم پـه جانـان ورېږم

ستا يو نظر کاتـه پـه وس کي نه دی
اوښکي پـه مخ د خپل ارمان ورېږم

چي پـري راځـي د يـار نـازک يادونـه
نـن بـه پـه ريـګ د بيابـان ورېږم

لمبې دي مړې د ښايست چيري مه شه
چې تـل د اور پـه ګلستان ورېږم

زه ستا سايل داسي سايل نه يمه
لکه چي ستا به په خپل ځان ورېږم

لا لېوني نه دي هوښيار دي په عشق نه پوهيږي
لېوني کلـه پـه مطلـب د ګرېوانـه پـوهيږي

د محبت پـه خـونړو لارو تلـل تـوکي نـه دي
پـه دغـو لارو عقـل نـه پـوهيږي زړه پـوهيږي

د محبـت ګنـاه د خپلـي ژبـي وانـه ړوو
منصور پښتون وو او پـه لـوظ پـښتانه پوهيږي

چې خپله پرهوځي د زړه ټپر و بهر وتلای نه شي
پــه دې هنــر بانــدې کــاږه واږه بانــه پــوهيږي

موږ د ديدن په وخت شايد يو بل ته ځکه ژاړو
اوښکې د اوښکو پـه غمجنـه ژبـه ښـه پـوهيږي

مخ چې ګلاب وي اسوېلي د شبنم هم پېژني
د ګـرد پـه وزن کـې پـوهيږي آيينـه پـوهيږي

د هغــې خلکــو زنــدګي هــم وي دروغ ســايله
چې په الفت کې هم په سود او په زيان پوهيږي

## سندره

راځي په سترګو کي مي لوېږي
جانانه مړ به دي کړم

جانانه مړ به دي کړم
تل مي د زړه په ګل بنېږي

جانان مړ به دي کړم
جانان مړ به دي کړم

ته چي په سترګو کي موسکي شي
ما نه خوب یوسي

ما نه قرار یوسي
لکه ګلاب لمبي لمبي شي

مـــا نـــه خـــوب یوســـي
مـــا نـــه قـــرار یوســـي

په هر یو رګ کي مي ګډېږي
جانانـــه مـــږ بـــه دي کـــړم

جانانـــه مـــږ بـــه دي کـــړم
ستا په نظر کي څومره اور دی

چـــا تـــه څـــه پتـــه ده
دنیـــا تـــه څـــه پتـــه ده

ستا په ادا کي څومره زور دی
چـــا تـــه څـــه پتـــه ده

دنیا تــه څــه پتــه ده
پــه ما شیبې شېبې وربېږي

جانانــه مــې بــه دي کــړم
جانانــه مــې بــه دي کــړم

ته چي نغمه شې زه غزل شم
ګــل شــم وریژبــږم

پــاني شــم و دوربــږم
په خپل یقین کي مکمل شم

ګــل شــم او رژبــږم
پــاني شــم او دوربــږم

په پانه کې ګډېږي
جانـه مـې بـه دي کـړم

جانـه مـې بـه دي کـړم
اوس مي ستا غم د زړه جاګير دی

کـه تـه وې کـه تـه نـه وې
سـايله وې کـه نـه وې

هر يو ارمان مي ستا تصوير دی
کـه تـه وې کـه نـه وې

سـايله وې کـه نـه وې
چـې هيـروم دي را يـادېږي

چې دې د یار په غوږ خو شونډو پانې پانې کړمه
د زړه ګلابه تا به هم په ګلاب واړومه

جانان ویل نن دې په غیر کې د نظر اخلمه
چې په لمبه لمبه خواني دې شراب واړومه

چې د ژوند رقص په ادیرو کې مړه روحونه وکړي
زه به د ژوند نغمه په داسې رباب واړومه

چې نه بیلتون وي پکې نه د رقابت تصور
ژوند به په داسې جانانه انقلاب واړومه

خواني يې ده غارمه يې د احساس بې دمه نه کړي
وريځـې يـې پــه سـر د اسـويلونــه جـوړوم

درځم به ستا سايل يم او د دې کوڅو ملنګ يم
کچکـول مـي د دې مـات زړه د ټوټـو نـه جـوړوم

⁂

پـښتنه مينـه يـې پـه نـوي عـذاب واړومـه
چـې بلـه پاڼـه د ژونـدون د کتـاب واړومـه

ډوبې تيـري مـي دي پـه مخ د زلفو سـاه ډوبوي
خـدايکو پـه زور بـه دي د مـخ نـه نقاب واړومـه

نه به د ځـان پـه مطلب پوه شې نـه زما پـه معنا
داسي پـه نـول بـه دي د سـوال او جـواب واړومـه

(۱۰)

چا که هر څو خوی د اورنګ او د فرنګ راوړو
ما د خوشحال د ترقیدلي زړګي ننګ راوړو

په پښتنه مینه د تور خای د چا څه پاتې شو
ما په تندي د یار د غوڅو شونډو رنګ راوړو

ما د خپل فکر او نظر د قاتلانو نه هم
د بې رخۍ د داد د سرو ګلو قلنګ راوړو

محبوبې بیا راوړو ګودر ته د بنګړو سندري
ما مازیګر له د پړېکړي زنځیر شرنګ راوړو

دا تماشه د محبت د سربازۍ وګورئ
په خپله ژبه یار زما د توري زنګ راوړو

ستا د قامت په ګرنګ والوتم را والوتمه
وړوکی خیال مي د آسمان هسي ګرنګ راوړو

لکه سامراج چي مي پښتون وطن ته جنګ راوړی
داسي مي یار زړه له د خپلو سترګو جنګ راوړو

خدای دي د سترګو شمعي ډکي د لمبو نه لره
سایل سبزلو له د خپل زړګي پتنګ راوړو

(۹)

دا زه چي لوبي د خپل زړه په لاله زار کوم
د ژوند بې وسه محبوبې ته مي سینګار کوم

لا مي په اور کي د حالاتو سوزي تړی نظر
یاره قسم دا ستا د سترګو په خمار کوم

سترګي يې جنګ غواړي سنګر د ځيګر هم غواړي
څه زوروري دي د ګټي باور هم غواړي

منم چي ستا نظر د وسپنو نه هم وتی شي
خو زما زړه د مزدور زړه دی هنر هم غواړي

لکه د بت مي خاموشي په شونډو مه خوروه
مينه خو ژوند دی چي شور هم غواړي شر هم غواړي

غر که مات نه کړي نو غرور خو به يې مات کړي کنه
خو دغه جنګ په څهره نه کيږي سر هم غواړي

سپرلی يوازي د سرو وينو په باران نه راځي
په پرهرونو کي د سرو ګلو کر هم غواړي

یاد! د جانان تر پنجرې راغې شو ښکې وې ویل
منـې کنـه! چـي زه پـه وسـپنو کـي لار کـوم

یارانو څـو ک وايي چي نشته پابندي پـه مینـه
ذکـر پـه غوڅـه ژبـه لا د یـار کـوم

لکـه ګلونـه چـي زخمونـه غـوړولای نـه شي
زه بـه غندنـه د هغـې سـپېره بهـار کـوم

دا یـو ګناه مي شوه د غاړي تیزندي تـر عمره
زه چـي خبـره د تـالا والا ګلـزار کـوم

جانانه ستا د دیدن تندي کـه لمبه کړمه هم
زه بـه سـپرلي د انقـلاب تـه انتظـار کـوم

زه به پرې خپل زړه لکه ډک د وینو جام توی کړم
ستا د تصویر خاکه به ستا په شان رنګینه کړمه

ته په جولو کاني زما په سر راوروه
ګوره چې ستا کوڅه به ځنګه ګل ورینه کړمه

چرته به ستا په رپندو شوندو هم وغږیږي
خپله سندره به په داسې درد شیرینه کړمه

شاید چې ته هم د الغت په معنا وپوهیږې
چې تا لمبه کړم لوېته در له واورینه کړمه

زړګی دې پوه کړه د سایل په اوښکو ویلې نشي
چې د ستم جذبه دې نوره هم سنګینه کړمه

د دار د سـر تماشـې دومـره هـم اسـاني نـه دي
منـصور هـم غـواړي تېـېـدلى تـمـر هـم غـواړي

د زړه په کوم ضد اعتبار وکړم په کوم ونه کړم
مـرهم هـم غـواړي او قاتـل د نظـر هـم غـواړي

د آزادۍ د نومـه زار شـمـه لوګی شمه تـري خو!
سـايل د خپـل فکـر الـوت لـه وزر هـم غـواړي

❁

د بغـاوت تـړـال بـه دي جـوړ د لونګينـه کړمـه
ستا په حضور کي به په دار بې وسه [illegible]ه کړمه

د محبـت ګنـاه مـا هـم کـړې تـا هـم کـړې وه
نـن بـه لـه تـا سـره هـم دا خبـره سـپينه کړمـه

۞

رقیب ګڼلای نـه شـمه د زړونـو څوکیـدار
قاتـل بـه د ګـل څنـګ شي د ګلونـو څوکیـدار

مالـک د محلونـو خـو لـوټ مـار وي د جونګړو
کېدای نـه شـي د خـاورو د کورونـو څوکیـدار

دا شـور د زولنـو دغـه شـرنګ د زنځیرونـو
پاګـل بـه شـي ډیـر ژر د زنـدانونو څوکیـدار

دا وچي وچي شونډي به مو تـر نـه شي یارانو
تـر کـومي چي یزیـد وي د جامونو څوکیـدار

سینو د انسانانو تـه رانیغ شـو سنګینونه
کـوي یـې هر کلـی د ګرېوانونـو څوکیـدار

خر څیږي به خر څیږي ژوند له نه مرګ له خرڅیږي
د چا چي سوداګر شي د سرونو څوکیدار

که ژبي رانه پرې شي هم په سترګو کي پوهیږو
هیڅوک نه شي کېداى د نظرونو څوکیدار

د نن رڼا به خي د انسان زړه به منور کړي
بې وسه به ولاړ وي د وهمونو څوکیدار

ستایله ستا شړى شلول منمه چي اسان دي
خوشال به پکي بایلي د شالونو څوکیدار

# سندره

ما نه جانان غوښتي سپورو څخو ته ګلونه پسرليه
چرته خو زموږ کلي ته هم را پيښه وکړه

ما ته يې په وچو شونډو ډېر کړي سوالونه پسرليه
چرته خو زموږ کلي ته هم را پيښه وکړه

موږ خو بېشکه چې د غرونو غاړو خلک يو
نو چې ساده هم يو د شاړو باړو خلک يو

مينې هم کوو که څو د کاړو پاړو خلک يو
پېژنو ګلونه که د غرونو غاړو خلک يو

راشه رنګينه کړه راته دا شاړي ډاګونه پسرليه
چرته خو زموږ کلي ته هم را پيښه وکړه

مـوږ غریبـان یـو زمـوږ مینـي هـم غریبـي دي
مـوږ بدنـصیب یـو زمـوږ برخـي بدنـصیبي دي

مـوږ شـډل بـډل یـو زمـوږ غوښتي بې ترتیبـي دي
مـوږ سـاده مـین یـو او زمـوږ مینـي عجیبـي دي

مـا ورسـره کـړي دي پـه سـرو ګلـو لوظونـه پـسرلیه
چرتـه خـو زمـوږ کلـي تـه هـم را پیـښنبه وکـړه

ستا دي وي قسم سپرلیه مات را لـه زړګـي نـه کړې
کور د محبت مي نه کړې وران ما بې اسرې نه کړې

تال ته مي د خوب او خیال د میني پرې پرې نه کړې
مـا مـي د فکرونـو دلربـا تـه بـې وعـدې نـه کړې

ستا په انتظار مې غوږېدلي پرهرونه پسرليه
چې ته خو زموږ کلي ته هم را پيښه وکړه

موږ ميناں يو موږ ژوندي يو په دردونو کې
موږ بياباني يو موږ ګرزان کوو په زړونو کې

ښکلي يو په دړو کې په خاورو په ريګونو کې
لا شي قيامتونه چې موسکي شو په ګلونو کې

موږ به تا ته هم وشيندو پاني پاني زړونه پسرليه
چې ته خو زموږ کلي ته هم را پيښه وکړه

دلته به دي ګل ګل کړي په يو يو ساز يګر لوګی
دلته به په هر سکني مانبام کړي هر سحر لوګی

موږ غریبان یو زموږ مینې هم غریبي دي
موږ بدنصیب یو زموږ برخې بدنصیبي دي

موږ شاړل باړل یو زموږ غوښتې بې ترتیبي دي
موږ ساده مین یو او زموږ مینې عجیبې دي

ماورسره کړې دي په سرو ګلو لوظونه پسرلیه
چرته خو زموږ کلي ته هم را پیښنه وکړه

ستا دي وي قسم سپرلیه مات را له زړګی نه کړې
کور د محبت مې نه کړې وران ما بې اسرې نه کړې

تال ته مې د خوب او خیال د مینې پړې پرې نه کړې
ما مې د فکرونو دلربا ته بې وعدې نه کړې

[illegible]
[illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]
[illegible]

[illegible]
[illegible]

دلته به کړي موږ ته د ګل ګل ځیګر ځیګر لوګی
دلته به شي تا ته هر احساس او هر نظر لوګی

وا بـه وري د ژونـد د خنـدا ګانو اتڼونـه پـسرلیه
چې تـه خـو زمـوږ کلـي تـه هم را پیـښبه وکـړه

دلته به دي مست کړي د مستانو مستانه خندا
دلتـه بـه دي ځوان کـړي د خوبـانو جانانـه خنـدا

اور بـه شـي د سـوزه د زلمـو پـه دیوانـه خنـدا
شور به شي د پیغلو په رنګ رنګ دانه وانه خندا

موج به دي په روڼ جبین کي ووهي رنګونه پسرلیه
چې تـه خـو زمـوږ کلـي تـه هم را پیـښبه وکـړه

ستا د درزېدونکي زړه آواز چې مې تصوير نه کړو
ګل مې بنديوان د خپلو اوښکو په زنځير نه کړو

موږ زېږېدلي په غمجن وطن غمجن خلک
موږ جدا د مينې د سندرو نه هم ويرنه کړو

خان مو په قدم قدم کې وخوړ خان مو ووژنه
خرخ مو په دې شته ښار کې يوسف د خپل ضمير نه کړو

جبر يې د زغم او صبر تل تل په موږ کړی دی
مات مو په پېړيو پېړيو غرور د خپل تقدير نه کړو

ښه به وي چې نور مې د غربت نه سترګي واړوې
ستا د نظر سوې خو ما قرار په ډېر شوګير نه کړو

زه لکه چې تل د خوب دنیا کې پاتې شوې یم
خوب چې مې د خپل ساده پښتون ارمان تعبیر نه کړو

دا خو وخت په تا ستم کړو چې تا په ما وکړو
یاره ستم ګره ستا ستم چې مې تحریر نه کړو

چې محبت کوي په ناز د نظر لوبې کوي
خود به د دار د سر د پاسه په سر لوبې کوي

زړه مې دي وچوي که به نوري تماشې غواړمه
چې ستا بانه وي او زما په نظر لوبې کوي

زه د حالاتو په لمبو کې ځان ته داسې ګورم
لکه د ګل غېږ کې شبنم د سحر لوبې کوي

ملایان به زړه هم چې مسیحا یې ګڼم
همه نادان خو مې د زړه به پرهر لوبې کوي

چې ګلشنوي مې د ګل د ښتو سره وسوزېدې
نامې د زړه به وطن خوک جانو ګر لوبې کوي

ما ته به یو ګور کې خور ورور غم او ښادي جوړوي
ماتم به ما ګوي به خان د اختر لوبې کوي

ستا د بنګړو د شور اثر به لا به سر کې شته دی
سایل د خیال به ګودر هم سازګر لوبې کوي

## ولولې

د زړه درزانــه بــه نغمــې د انقــلاب جــوړوم
ســتا د ظلمونــو د کیـسو نــه بــه کتــاب جــوړوم

حلالـوي چـې مـي پـه پټـه خولـه پـه پخـو چړو
دغـه نظام تـه بـه د خپـل خانـه قـصاب جـوړوم

## زه

چــې د میـنـــې پـــه مکتــب کــې لېــونی شــوم
کــه حــالاتو هــر څــو ووژلــم ژونــدی شــوم

دې تــریخ ژونــد لــره پیغــام د ســپین صبا
چــې زلمــی شــومه قاتــل د تــوري شپې شــوم

## احساس

هر گل په وینو سور دی گلستان په وینو سور دی
احساس لکه شهید د هر انسان په وینو سور دی

قربان د دې سماج د سندریزي ارتقاء نه
زما پکي لا هغسي گرېوان په وینو سور دی

❀

حالات لگیا دي لگوي مي په فطرت چکونه
زه لگومه په خپل خوار سپېره قسمت چکونه

د لېونتوب علاج ته گورئ لېونو ملگرو
چي لگوم په زنځیرونو هر ساعت چکونه

اشنا که یو رقیب سر وخوري بل به هم پیدا شي
لګـول غـواړي پـه سـبق د رقابـت چکونـه

نیت یې معلوم دی بس زما د یو نظره تنګ دی
خکـه مـي داسـي لګـوي موسـم پـه نیت چکونه

بیـا مـي اشنا د لېونـو چیغـو نـه ولـي تـښتې
چي لګـوي مـي پـه شعور ستا نزاکـت چکونه

جانانـه! ووایـه سـایل کومـه ګنـاه کـړې ده
داسي خـو نـه لګـوي څـوک پـه محبت چکونه

## خپله خپله

•

تا ته د مرګ مرګ په خبرو کي ثواب ښه دی
ما ته د ژوند ژوند په خبرو کي عذاب ښه دی

ملا ته خوري زوتوه عېش کوه عېش څنوه
ما ته زما د زړه په درد پوهه رباب ښه دی

## فرمایش

زما په دواړو اوږو ناستو فرښتو ولیکي
زما غزلي ګنهګاري په ښتو ولیکي

د خدای حضور کي مي بس دا عملنامه کښېږدئ
دلته سوزېږمه بې وجې په لمبو ولیکي

(۵)

نن د حالاتو د چړي د لاندي ساه اخلم
هر څه چي کيږي خو نامه مي د اشنا اخلم

د چا لعلونو او ګلونو ته پسخبر مه نه
زه کاني بوتي د خپل غر او د بيديا اخلم

د چا د ښار ښاپيري څه کوم که ډېر ښکلې شي
زه خپل غزل ته ستا د سترګو نه ښکلا اخلم

وخت د خندانه دی خو خال دي راته وخندوه
د زړګي داغ له ترينه لږ شان رڼا اخلم

د ميني دا دستور مو خوښ شو مينانو که نه
هغه ښيرې اخلي له ما زه تري دعا اخلم

د اشنا یاده د ثواب د لاسه ډېر غریب یم
یوه بوسه درنه په بیعه د ګناه اخلم

❀

که مو ارمان په غتو غتو وي دیدن د ښکلو
لېونو راشئ په بازار نیلام دی نن د ښکلو

ما د نجوم په سیپاروکي دادي اوس ولوستل
چي قحط د میني راروان دی په وطن د ښکلو

پرون که یوسف اخیستی وو د مصر عزیز
نن سوداګر په دې نړۍ کي دی نکسن د ښکلو

زه ورته ګورم مړاوي په بې وسو سترګو
د سرو ګولو ګولي وریږي په ګلشن د ښکلو

لاړې د وینو مرغلرې بې قیمته شولې
د رقیبانو باچایي، ده په یمن د ښکلو

ساقي رواج د میخانې په نوي رنګ قتلوي
پیالې د زهرو نن ویشي په انجمن د ښکلو

سایل دې کوم شپول ته خوږ و خوږ و خوبونو له وړي
نادان زړګیه! تصور دې د ېر ازغن د ښکلو

## بو آواز

موږ یو ننګیالي لښکر تیار دې زموږ
ننګ په وطن کار دې زموږ

خو صرف یو آواز ته انتظار دې زموږ
موږ په داسې خاورو کې د ژوند خرپوسي کړي دي

چې ته چې دستور دی چې د ګور مړي هم ننګ کوي
مونږ د داسې غرونو په لمنو کې لوی شوي یو

چې ته چې سر هسک شي نو د غرونو سره جنګ کوي
مونږ د داسې مینې په طوفان کې سترګې سپړدې دي

چې ته چې طوفان د چا د سرو سترګو نه خنک کوي
مونږ لامبوزن د داسې مستو دریابونو یو

چې ته چې سرې وینې مستې مستې شي غور خنګ کوي
هر نظر یو قهر دی ناتار دی زمونږ

ننګ په وطن کار دی زمونږ
خو صرف یو آواز ته انتظار دی زمونږ

نشته په تاريخ کي زموږ نشته د شکست ټکی
نن هم په سرو وينو شونډو ګواهي کوي

دا زما هستي ده چي ور کېږم لا زېږېږمه
ځوک راباندي ولي هسي خپله تباهي کوي

وادي وري مني دي نه دا چيغه به شي سره يو خل زما
اور به پري دنيا کړو که ځوک څه هم ګستاخي کوي

ځوک هم که دا اور وطن د مړو ايرو ډېران ګڼي
سري لمبې پوکي خو که يو پړق شو تباهي کوي

فکر لړزېدلی سور انګار دی زموږ
ننګ په وطن کار دی زموږ

خو صرف يو آواز ته انتظار دی زموږ
منم زمانه به د مشين په طاقت ناز کوي

موږ د خپل مضبوط ايمان په لوی دولت غرور کوو
منم زمانه به د اټم په زور غلطه وي

موږ د انساني فکر په لوی دولت غرور کوو
منم زمانه به وي د چل په تجربو نشه

موږ د خپل رسا فکر په هر جرأت غرور کوو
منم زمانې به ځان په بل شکل ليدلی وي

موږ په خپل ساده او په مين فطرت غرور کوو
تک د محبت په بنکلې لار دی زموږ

ننګ په وطن کار دی زموږ
خو صرف یو آواز ته انتظار دی زموږ

(۶)

شوندي ګندم په نوم د یار پابندي ولګېده
د پاکي میني په اظهار پابندي ولګېده

په ژبو وه خو دا په ظلم باندي ظلم وشو
چي مو د سترګو په تکرار پابندي ولګېده

رواج د دار چي د منصور نسل ډېر وزېږوو
چي په دار ونه شوه په دار پابندي ولګېده

د میني دې دستور ته څه نوم ورکولای شي څوک
هم په اقرار هم په انکار پابندي ولګېده

گل چې تازه د خار په مرسته شو زما په وينو
د ظلم حد ګورئ په خار پابندي ولګېده

لږ دا کړنې د جانان د تندي هم ولوله
زړګيه! بس په انتظار پابندي ولګېده

اوس به د ګل سندرې چا له اې سايله ليکو
د بلبلانو په چغار پابندي ولګېده

## غزل

په نيمه شپه را يادې شوې خنداني سترګې ستا
په سرو سترګو مې ښکل کړې ظالمانې سترګې ستا

د زړه وينې مې څښلې ورته ډېرې کړې ارزانې
په ما باندې دې څومره يار ګرانې سترګې ستا

دا هر وخت چې زما د زړه وژلو ته ګوابنېږي
په دې خو مې دي خوښي قاتلاني سترګي ستا

رښتیا وایه په مینه مې قایله شوې که نه؟
بدنامي زمانې نه بدګماني سترګي ستا

چېرې چېرې خبري په رنګینو اشارو کې
کوي راته هر وختې قصاباني سترګي ستا

## جانان

ملالې سترګي یې د سرو وینو خمار وروي
په پرهري احساس یادونه د بهار وروي

ستا د خاموشو شونډو هیڅ معنا کولای نه شم
بس د غزل په کربلا وطن افکار وروي

وایم د چمن د ګل نظر ته کړم نظر سپیلني
خاندي چې وخت پر بارانونه د انکار وروي

## اشنایي

اغزي راته په سترګو کې ماتیږي خو بیا هم
د ګل د خوږې مینې د غرور سره اشنا یم

لمبې مې ستا د حُسن که معراج وي د ارمان
بیا زه خو د ازل نه ستا د نور سره اشنا یم

ګل لاله سور ګُلِ لاله یم د زړه داغ ته په خندا یم
رنګ په وینو پروت لکه شهید د کربلا یمه

ولي دي د خپل نظر د پاک جنت نه وایستم
نه خو زه آدم یم نه غنم خورم بې ګناه یمه

## زنځیرونه

زلفي چې په مخ دي پرېشانه زنځیرونه شول
ما ویل چې را تاو د ګلستان زنځیرونه شول

ستا کوڅه کې ستا د محبت په ګناه ونګوره
ستا نوم اخیستل راته جانانه زنځیرونه شول

واورئ مینانو! د نن نوي خبري داسې دي
اوس مینه د هجر د سزانه زنځیرونه شول

## زېری

لمبو او د بارودو او ګولو په دندو کار کې
د ظلم د سوربټ په تېر قهار او پر قهار کې

باران کـي د سـيکې او د بمونـوپـه ناتـار کـي
د تـوپــو جهـــازونو درزهـــارډاوغوزهـــار کـــي

خو! وېښ نام د خپل تقدير په جوړولو کي کامياب شو
د ګرمـو ګرمـو سـرو وينـو تـودو تـودو لوګـو کـي

د خوينـدو او ميـنـدو خـوږ ژړونـو پـه قطـرو کـي
د خپلـو وينـو ښـو د تـريخ ژونـدون پـه کـټـورو کـي

د اوږو او د تـــږو ماشـــومانو پـــه ســـلګو کـــي
وېښ نام د خپـل تقـديـر پـه جوړولو کي کامياب شو

آبـاد آبـاد ښـارونه کنډرونـه شـو ويجـاړ شـو
د مينـي خـوارږه کلـي شـو بتکـي بتکـي لتـاړ شـو

کورونــه شــو جــارو د انــسانانو نــه او شــاړ شــو
په ډېر اوږد لوی جنګ کي انسانان وو چي کاړ کاړ شو

خو! وېښ نام د خپل تقدير په جوړولو کي کامياب شو
هـــر خـــوا پـــه هـــر طـــرف نمايـــشونه د لاشـــونو

پــه هـر قــدم قــدم کــي غرونــه د لاشــونو
د تـــګ پـــه هــره لار کـــي امبارونـــه د لاشـــونو

جــوړ شــوي وو پــه هــر ميــدان ښارونه د لاشــونو
وېښ نام د خپل تقدير په جوړولو کي کامياب شو

هــر ويــر کــي بــه سـندره د وېــښ نــام د آزادي وه
خبــره د هــر چــا پــه خولــه د قــام د آزادي وه

تینګک وو او که منده په هر ګام د آزادي وه
چي خوله وه خوږبدلې په پیغام د آزادي وه

وېښ نام د خپل تقدیر په جوړولو کي کامیاب شو
د ژوند ویرجني ورځي وې غمونه وو او جنګ وو

مظلوم انسانیت وو او ظلمونه وو او جنګ وو
ښځې ابله پښې! سر تور سرونه وو او جنګ وو

ورځ نه وه میاشتي نه وې بس کلونه وو او جنګ وو
وېښ نام د خپل تقدیر په جوړولو کي کامیاب شو

زلمیان وو او که پیغلي وې په یو میدان ولاړ وو
بوډۍ که بوډاګان که ماشومان وو جنګیالان وو

په وینو کي پیدا وینو کي لوی وینو کي مړه شو
ژوندون ورته سلام وکړو نران وو تول نران شو

وطن نام د خپل تقدیر په جوړولو کي کامیاب شو
سامراج یوازي دا نه چي وطن نام ته سلام وکه

سامراج د دې نړی هر مظلوم قام ته سلام وکه
سامراج د مظلومانو احترام ته سلام وکه

سامراج لکه غلام د قام غلام ته سلام وکه
وطن نام د خپل تقدیر په جوړولو کي کامیاب شو

ملګرو د سامراج د حکمتونو زنځیرونه
ملګرو د سامراج د فریبونو زنځیرونه

چې وه يې د نړۍ د مظلومانو نه تاو کړي
ماتيږي هر طرف ته د وهمونو زنځيرونه

وېښ نام د خپل تقدير په جوړولو کي کامياب شو
په ټولو قام پرستو! انسانانو باندي زېري

د حق په جنګېدونکو باتورانو باندي زېري
د مينې په ملګرو او يارانو باندي زېري

د دې نړۍ په ټولو مظلومانو باندي زېري
وېښ نام د خپل تقدير په جوړولو کي کامياب شو

## شپېلۍ

که ژوند وي ژوند زما دی
که فن وي فن زما دی

خپله شپېلۍ به غږوم
خپل پرهرونه چیچم

ژوند به نغمه نغمه کړم
کاینات ټول نشه کړم

د زلمیتوب څه خواږه
دا ږنتوب څه ترانه

ازغن ازغن تصور
نولجن نولجن تصور

د مات زړګي خبري
خوږې ترخې سندري

نن يکي بيا اړوم
خان ته دنيا جوړوم

خپله شپېلۍ ږغوم
خپل پرهرونه چېړم

په تکه توره شپه کي
په يو ويده صحرا کي

په اېژدها ځنګل کي
د ځناورو خوا کي

پېریان دېوان دي هم وي
خو بني ادم دي نه وي

فرشتګان دي هم وي
خو بني ادم دي نه وي

دا ترب وران دي نه وي
دا دښمنان دي نه وي

دوی مي شپېلی بندوي
دا مداریان دي نه وي

زه چي شپېلی ږغوم
نغمې د میني چېږم

په ژوند کې ژوند لټوم
د مرګ نه ژوند جوړوم

دوی مې شپېلې بندوي
زمانه ژوند اخلي

نشه کې خار اچوي
زمانه فن اخلي

اخر ګناه مې څه ده
د چا نه څه غواړمه

چې پر دښمن شم د چا
داسې څه نه غواړمه

چې مې په ګناو ولې
مړه نه ژوندي مې ولې

اخر خپل ورور مې ولې
او په خپل کور مې ولې

زړه دي اخـــر وژاړي
او څــه ویــل وغـواړي

چې شپېلې سره نغمه شي
دوې راتــه نېـغ ولاړ يـي

ژر مــې شــپېلې ونيــسي
اخــر ظلمونــه څــه وي

زه به شپېلی ږغوم
د ژوند نغمې به چېړم

زخمي احساس خوږوم
دغه پښتو به کوم

که ژوند وي ژوند دی زما
که فن وي فن دی زما

زما بې باکه شپېلی
د چا پابنده نه ده

که د زندان قبر وي
او که د دار سورلي وي

خو پښتو نه نوريږي
اخر پښتون يمه زه

ما له اجل نشته دی
ژوندون ژوندون يمه زه

دغه وعده زما
په دې پښتو مې قسم

د ژوند په سرو سرو سترګو
او په سلګو مې قسم

په دې خپل فن مې قسم
په دې نغمو مې قسم

که نمرودي لعبې وي
که فرعوني خدايي وي

که د زندان قبر وي
او که د دار سورلي وي

د دښمنانو تېښته
د مداريانو تېښته

به نوره نه کومه
دا فيصله کومه

## پښتونه

بې مراوې شان ګل د خاموشۍ بندي خانه کې
احساس دې لکه مړې روح دې نشته په سينه کې

نيستي در نه چاپېره ده د هستۍ په خزانه کې
ګونګې يې يو غلام يې بت يې پروت په بُتخانه کې

د نشت يې برابر په خپله لويه خېلخانه کې
زياتيږي دې غفلت د بيدارۍ په ترانه کې

نيږيږي دې ژوندون د مفلسۍ په ويرانه کې
عظمت دې مفلوج شوې د قانون په ميخانه کې

راګير لکه مجرم يې د تقدير په بهانه کې
هست در نه لوټ شوې د ثواب په افسانه کې

محتاجـه زمـانې تـه يـې پـه خپلـه زمانـه کـي
پـښتونه! ځـان تـه وګـوره پـه خپلـه آيينـه کـي

را پاســه دغــه تــولي پـــردې وشـــلوه د ځانــه
لـوګېږه مـه لمبـه شـه ځـان تـه لاره کـه روښـانه

يـو پـړق شـه يـو رڼـا شـه يـوه تکـه سـره لمبـه شه
ور دوکـه د تيـرو پـه سـر يـو شـخ شـه ور غوټـه شه

يـو شـور شـه يـو اتـڼ شـه يـو بيـداره ترانـه شـه
يـو سـر شـه يـو آواز شـه يـوه مـسته شـان نغمـه شه

د ژونـد پـه ويرانـې بانـدي پـه منـډه را پـره شـه
مشغله شه د غيـرت پـه پښتونخوا باندي خوره شه

مستي شه د پښتون یو لېوني شاني جذبه شه
غورزنګ شه د ملي احساس د ننګ چپه چپه شه

شپېلۍ د اسرافیل شه د انا یوه تپه شه
عقلونه لېوني کړه یو کم عقله ولوله شه

طاقت شه لوړ همت شه د مزدور د تن خوله شه
د ظلم سره جنګ وکړه د وروړ پره جنبه شه

زنځیر دي بند کی مه شه توتې که په لاسونو
تقدیر د تا غلام دی راج دی ستا په قدمونو

ته څوک یې؟ چي بس لوبي دي نو ستا په هستی کیږي
ستا ژبه به وي ګونګه چي خوزیږي نو داغیږي

شمله د ستا که وغورزیږي خیر دی که غورزیږي
که چوڼ د خلې وباسي نو ناموس دي بدنامیږي

دا ستا بچي که دلته کي تږ قیږي که پړقیږي
دا خیر دی خو ته چپ اوسه بیا امن تباه کیږي

ستا حق به په رنا ورخي هم داسي تالا کیږي
هم داسي به پري بل مدام خریږي او غټیږي

په تابه په نهره بیګاه کیږي صبا کیږي
دا ستا تقدیر به دغسي ورانیږي او جوړیږي

هم داسي به دي ژوند په مړو پښتونه حسابیږي
تل ګوره ګوره ګوره وایه خوله به دي خوږیږي

راپاسه ننګ ته ور کړه حرکت ژوندون دي جوړ که
پښتونه د وطن په نعمتونو پښتون موړ که

راپاسه د غریب په مړ ژوندون کي حرکت شه
راوبښ شه د پښتون په ګونګه ژبه کي قوت شه

راپاسه محافظ دي د خپل شان او د شوکت شه
وجود د استقلال د خپل پرهوتي قومیت شته

خدمت د خپل مظلوم او که د خپل نوغي طاقت شه
په ځنګ ونګ پښتنو کي د یو والي حرارت شه

لعنت د نفاق ختم کړه په دې سیمه رحمت شه
ثابت د خپل وطن شه نېک نامي د خپل ملت شه

کوشش د یووالي د خپل تالا والا محلت شه
د دې تالا والا کور تصور د مصلحت شه

ناسور تري د تربور لرې که نور يې د فطرت شه
بس مينه شه خلوص شه محبت شه

نېستي د غاړي لرې که هستي له غاړه ورکه
دا شپه دي په خپل خان او هم په قام باندي سحر که

چي په کي قحط ستا ديدن شي اور دي پوري شي پرې
که دا دنيا باغ عدن شي اور دي پوري شي پرې

چي ستا غنچې غنچې سرې شونډي په کي نه وينمه
که هره لار ګلشن شي اور دي پوري شي پرې

چي ستا دا دوه سترګي زمانه پناه کيږي په کي
که يې جنت هم خپل وطن شي اور دي پوري شي پري

چي په کي نه وي مره نشه ستا د دې مړاوو کتو
جوړ که د ښکلو انجمن شي اور دي پوري شي پري

چي نن په غم وي په صبا کي نه وي خوند د صبا
چي نن صبا شي صبا نن شي اور دي پوري شي پري

چي دي څوک اوښکي د کنجکو په نرخ هم نه تلي
که ملغلري د يمن شي اور دي پوري شي پري

سايله! بد نه دي د ژوند د آزادۍ فکرونه
خو چي په مينه دي قدغن شي اور دي پوري شي پري

چرته چي هره ورخ نيلام د قلمونو کيږي
هلته کي خير دى که سودا د عصمتونو کيږي

چي بنديوان شو رانه ټول زلمي د تورو زلفو
ملکرو! څومره سپکاوی د زنځيرونو کيږي

هغوی ته ځنګ د ترقی سندري ووايه
چي پرورش د کوم اولس په خيراتونو کيږي

زړګيه! چپ ګوري دستور د پښتنو مات نه کړي
د حق خبري، د دارونو په سرونو کيږي

لوږه که راشي په هغو خلکو به ځنګه راشي
د چا چي فصل د ګولو په بارانونو کيږي

چي دا هم عصر زيم خوانان وويـنم ووايـه
جوړ نمايش د ژوند زيلو تصويرونو کيـږي

چي د منزل په طرف خپ نو خان به خان نه ګنې
دغه مزل په زاره چاودو تيـنـد کونو کيـږي

اې اوږو تـږو په ګنـاه ککړو صـبر وکـړئ
جمات تـه راشئ مسلې د ثوابونو کيـږي

⊙

څه په هوښيارو ستر ګو واوړېدې نادان زړ ګيه
څومره ارزان دي رانه غواړي په ماګـ ان زړ ګيه

زه څوک ديدن تـه او دچا درتـه راوبلـمـه
زه خولرمه نه مکان نه لامکان زړ ګيه

زه چې د ژوند په کومه لاره باندې تګ کومه
هلته په هر ګام هره ساه دې امتحان زړګیه

په وچو شونډو که په مستو خمارې اننګو
سپرلې دې راشي خو د چا په ګلستان زړګیه

دا بې خودي ده که هوس دې که د عشق انتها
ګوره ته خپل قاتل ته هم وایې جانان زړګیه

دا چې د ژوند د یقین شات در ته هم زهر ښکاري
خوب رنځور کړی یې د وهم او ګمان زړګیه

څوک د خپل فکر په وطن کې غلامي نه کوي
د ننګ د تخت دپاسه کښېنه شه سلطان زړګیه

چې دې سایل د رقیبانو په کوڅه تېروي
کاڼي به هم ګڼې د سرو ګلو باران زړګیه

✿

ګل به مې د سترګو د لیمو د پاسه خور نه شي
ستا د دلفریب نظر سپرلی تري چرته اور نه شي

ګل به آخر څو کړي ژوند په خپله خاموشۍ کې پټ
ما سره دې فکر چرته دا خاموشي شور نه شي

داد زړه وطن مې ستا دلاسه دوه تېوتې خو شو
یام ګورئ چې نور پرې غرض ونکړی څلور نه شي

زه چې د دې تور مجبور دستور سپینول غواړمه
څنګه دې را پورې د دې پاکې مینې تور نه شي

زه سترګو کي مينه ته په سترګو کي غرور لرې
چيري هم زما او ستا د سترګو کلي کور نه شي

تش په دلاسو د باچايي ښامار خوړلی زړه
خدايږو چي بغير د يوې چيغي نه تکور نه شي

ستا د آيينې غوندي سپېځلې پښتنه مينه
داغ دي ويل سايل ته په تندي خو چي پېغور نه شي

مينې د ماشوم وتخنولم لېوني شومه
سترګو دي څه داسي وچېړلم لېوني شومه

چا د تورو زلفو ښامارانو په تالونو کي
داسي په راستي وځنګولم لېوني شومه

اوس خو تري سره د عقل پاتې په سرو تکو شوم
کوم بهار په غیږ کې لوبلولم لېونی شومه

ناز وو که غرور چې نه یې مړ نه یې ژوندی کړم
ښه یې په خواني ورنخولم لېونی شوم

ناست لکه ماشوم د خپل ماشوم فطرت جنت کې وم
ژوند سره احساس اشنا کولم لېونی شوم

ښار کې د ستم د ارمانونو په لاشونو نن
غرق تصویر بیا وګرځولم لېونی شوم

زه سایل د مینې وګستر کې غزل غزل کړمه
وخت لکه نغمه وتنړولم لېونی شوم

(۹)

زه د سپرلي ګل وم موسبدم او غوړېدم خوبه
زه د ګل وږمه د ګل وتم او خوربدم خوبه

خلک به رانږده وو لکه شمع چي يې نه ليدم
او رچي مې په سر وو لکبدلى بلبدم خوبه

ستا د اشارو غيرې لـه ويني ويني راغلمه
ستا د نظر دار وو زه منصور پري زنګبدم خوبه

هېر دي دي هم تا چي د ستم په لاره رودى وم
ياد دي شو کنه چي زه ژوندى وم تو کبدم خوبه

زه د خپل شهيد احساس توده بې ګناه وينه وم
داسي نو ببخي ور کبداى نه شوم زبږېدم خوبه

لاړه وه د ژوند کانیزه هم وه او ازغنه هم
زه چې پرې روان وم پرېوتم او پاسېدم خوبه

❁

چې لاس د مینې مو د یو بل د ګرېوانه خیژي
زما او ستا د زړه آزار زما او ستانه خیژي

جانانه زیړ رنګ مې غربت داسې پوخ کړی په مخ
ستا د موسکو شونډو سور رنګ به پرې په ګرانه خیژي

شور د خندا دې غلې نه کړې چرته وایې نه ورې
زهمي زګیروی مې د زخمي زړه له زندانه خیژي

نور راته مه ګوره د خپل نظر د زور په خاطر
کنې په چل چل کې مې ګوتې د ایمانه خیژي

دعا دي خان ته وکړه، وکړه ښيرې ما ته وکړه
خو لږ مي پوه کړه چي زور به يې د چا نه خيژي

په سور سالو کي دي د چا ياد غزوني وکړې
ما ويل لمبې مي د وطن د ګلستانه خيژي

دا چي نه مري لمبه کيږي دا لوګې سايله
داسي د ستا د کوم غمجن ارمانه خيژي

ځومره خاوري باد شوې په نظر د ګل
بيا هم دي په وينو شوندې تر د ګل

راشه که تري خال ږدې په ريمن جبين
بيا تازه کېدونکي دي پرهر د ګل

خاندم چي په خان ژاړم په تا پسې
خدای مي کړه خواني د خپل سحر د ګل

توان که مي د وژلو لري رادي شي
څوک به وړي قاتل ته دا خبر د ګل

سوی يې دازغي کړو راته څومره خوږ
منم نزاکت منم هنر د ګل

خدايه چي لمبې تري په ما پوري شي
داسي جانانه کړې مازيګر د ګل

بخت ته د سايل د ميني وګورئ
سوري يې په سر باندي شو نمر د ګل

تا به زه د خپل زړه په دردونو کي ودان کړمه
يه د جانان غمه غاړه را چي دي جانان کړمه

ما سره خو صرف يو غربت وو در لوګي مي کړو
يه د يار نظره نور به څه در نه قربان کړمه

ګرانه څه په ګرانه دي نن ما غريب ته ګران وويل
دا دي څه د ګران ګران په بهانه باندي ارزان کړمه

دا دي په کوڅه کي دي کچکول په لاس ولاړ يمه
تا خو ما ته ويل چي ياره تا به شاه جهان کړمه

ته څه شوې په کومه دي د پښو ګردونه پرېوتل
زه دي د يادونو قافلو ته بيابان کړمه

خدای ته ګوره مه خه چي دالاري کوځې پرې نه بږدې
زه به درته دا کنډري بیرته روهستان کړمه

زه به په هر حال کي د حالاتو سره جنګ وکړم
زه به څه تاوان کړم زنځیرونه به تاوان کړمه

څوک به روایت د لېونتوب آخر ژوندی ساتي
زه هم که راتلول لاس کي تارونه د ګرېوان یمه

وینې چي تري څاڅي خاندي هم او لمبې هم کوي
دغسي تصویر به جوړ د میني د ارمان کړمه

## یاد

ستا د یاد د پېرزوینو به څه وایم
چې د در ترخه محسوس کړم خواله راشي

د هر زخم د هر درد مې مسیحا شي
لکه ګل مې په زړه خور شي په خندا شي

د زندان سپېره ماښام راته حسین کړي
زاره چاودي ساعتونه مې رنګین کړي

د جمال په وسعتونو مې داده کړه
همه واړه چاپېریال مې ګل ورین کړي

لکه ښه ستړی مزدور په تور شپه کې
درنا د سمندر پلوشې ویښ کړي

یاریچي ریچي دهقان بیگار زېلي
د سر شوو ارمانونو نغمې وینې کړي

لکه غبره د جانان د نزاکت کي
د شوګیر زړه ګوتي غرزي پرزي خوب شي

د نظر د سرو ګلونو په باران کي
ناز پرور مي د خیالونو لپونتوب شي

لکه دار د جانانه اشارو غبرږ شي
منصور زړه پکي پاني پاني خور شي

او د میني لوبه سره شي تماشه شي
داسي شور شي چي زخمي زړونه تکور شي

لکه څوک د مرګ او ژوند په کشمکش کې
چا ته پېښ د شونډو جام آب حيات کړي

لکه څوک په زنځيرونو کې تړلي
مجنون پرېږدي دواړه لاس مات د جلاد کړي

لکه څوک د ورېده جنګ په سنګر کې
تسلي او ډاډ ګېرنه چا له ورکړي

او ورسره خپلي نازکي وفاګاني
بدرګه کړي او ملاتړ کړي او لښکر کړي

ستا د ياد د پېرزوينو به څه وايم
چي د ژوند تراخه محسوس کړم خواله راشي

د هر زخم د هر درد مي مسيحا شي
لکه ګل مي په زړه خور شي په خندا شي

۞

دار له مي بيايي په زنځير کې بنديوان روان يم
تماشې وکړئ په کوڅه د خپل جانان روان يم

د يار نظره چرته يې چې په تندي مي ښکل کړې
ارمان مي نه شې د بېلتون په بيابان روان يم

څه دي ګونګې کړې د سندرو ډکې شونډې
نه دي سندره نه سلګۍ کړمه حيران روان يم

لکه يادونه چې دي هم وي شکولي رانه
داسي يوازي په ميره کې د ارمان روان يم

ما ویل چي سا معصوم نظر چرته رسوا نه کړمه
پټ مي نیولی دی په موتي کي ګرېوان روان یم

د محبت وجود ته نوې زندګي ورکوم
په ګلدرو کوم د سرو ګلو باران روان یم

پروت په ګلستان کي په صحرا یمه
تل به ستا د ژوند سندري وایمه

ستا خورې زلفي به راټولي کړم
ستا د چاودو شونډو مسیحا یمه

بت مي ستا په زړه کي د شک مات نه کړو
ما که درته ډېر وویل چي ستا یمه

قهر چي دي اوښکي شي په سترګو کي
زه لبـــوني ســــتا د دې ادا يمــــه

نغـــښتي ګمانونـــه پکـــي وينمـــه
نـــن دي هـــر نظـــر تـــه وار خطـــا يمـــه

زه ســـايل دي داســـي غـــم اخيـــستی يـــم
ګـــوره چـــي نـــن خـــان تـــه پـــه خنـــدا يمـــه

ول د انګـــو يـــې ګـــل شـــو خـــور نـــه شـــي
نـــن يـــې د خنـــدانـــه شـــونډي اور نـــه شـــي

وراغـــی د خـــسن پـــه لمبـــو کـــي خـــوب
خدايـــه چرتـــه ويښ زمـــا پـــه شـــور نـــه شـــي

زه يې ا ترام د غ رور هم كوم
زړه گټل په سد نه شي په زور نه شي

خير دي تندرونو ته وريت نظر
وران مي زړه كي ستا د ميني كور نه شي

ستا د تورو غيږو غيږو زلفو بوی
قات په اديره د رتنبور نه شي

خير دی زه دي خاوري شم ايرې دي شم
ستا دانه وانه اوربل دي سپور نه شي

د تنهایي د بیابان تیارې مې ساه ډوبوي
په بل څه نه شي ستا د سترګو پلوشې غواړي

۞

یار ورته چل بنود او رقیب راته زنځیر جوړوو
زه د خیبر په سر وم ناست ما یې تصویر جوړوو

زما قلم زما په ګوتو کې ټوټې ټوټې شو
څکه چې ما پرې د دې خپل وطن تقدیر جوړوو

زما د جرم دلیل دا وو پښتنو ملکرو
چې د دې خپلې پښتونخوا نه مې کشمیر جوړوو

که مدرسه د غلامۍ وه نو بس وه به کنه
د آزادۍ حقیقت راته ضمیر جوړوو

⚙

د جانـان سترګي لېوني شوې لېوني غواړي
نظر يې زده کړه د ويشتو کوي زړګي غواړي

هلتـه د دار خبـره دلتـه د خمـار خبـره
ژوند په هغې تـال زنګول هم به په دې غواړي

ژونـد د سندرو او خبـرو او ښايـست نـوم دی
د صـحرا ګـل هـم د مينـو تماشـې غـواړي

چې يـو وړه غونـدي مُسکا شي د جانـان د نظر
زما ارمـان زمانـه داسـي سـپرلی غـواړي

د خپـل زړګـي د لېونتـوب بـه درتـه څـه ووايـم
ستا د لمبـه لمبـه خنـدا مـازيګری غـواړي

موږ تري ډيوو ته د جونګړو رڼا ګاني غوښتې
هغوی زموږ د پاکو وينونه جاګير جوړوو

ستا د ژړا ذکر په خندا کولای چرته شم
هر څه شم کولای ياره دا کولای چرته شم

ما په يو محفل کي يو نظر هم ور ونه کانه
زه يې د بيدارو سترګو غلا کولای چرته شم

ډېر به ګنهګار يمه خو ستا نه دانکار جرأت
په جانانه دا لويه ګناه کولای چرته شم

ما موتي مالوچ هغه د مصر خزانه راوړه
زه مي د بنايسته يوسف سودا کولای چرته شم

نن يې راته وويل په رښتياو حق زه هم لرم
مينه ده په مينه کي رښتيا کولای چرته شم

يار وويل سايله زه پخپله ژوبل ژوبل يم
ستا د پاره کار د مسيحا کولای چرته شم

❀

داسي مي مخ وران د بې وسی په ژړا هم نه دی
لر کړه آيينه د آيينې د خندا هم نه دی

لا مي چي احساس د بيابان ربګونه الوزي
لا د بڼ د زلفو سوری شوی په ما هم نه دی

نيمه خندا هم چي پکي ګل شونډو له درنه کړه
وي به پسرلی خو چي ستا نه دی زما هم نه دی

پورته نه کړې لاس د اتنګو د انګارونو نه
مې دي لازما په خونه اور د ادا هم نه دی

زړه دي څه د خواست کچکول خونه دی چې واپس يې کړم
داسې خو د هرې کوڅې خاورې ګدا هم نه دی

نن يې په جامونو کې د سترګو راچې وڅکمه
روح که مې عادې شرابي نه دی ملا هم نه دی

څنګ به د سايل نه شې انداز د خپل قاتل غلط
فکر که مې څه هم رسانه دی خطا هم نه دی

❁

رنګ چي يې هر کاڼي او هر بوټي يې دلبر نه کړم
مخ به خپل وطن ته آيينه د خپل هنر نه کړم

څه په زمانو پس دي ګرځوان په لاس راغلی دی
شپې پښتون به نه يم که پيدا در نه سحر نه کړم

څه به شي موجونه څه به ډوب شي رقيبان پکي
زه که د غمجنو ستر ګو اوښکي سمندر نه کړم

ټن يې را ته وې چي ته شعور د ښايست نه لرې
ته لا سپرلي غواړې زه به ګل په لاس کي در نه کړم

دلته مي نظر ړومبی ړومبی تيندک خوړلی دی
زه به خطا هيچري دا لاره دا ګودر نه کړم

هره ورځ مي وژنه چي د ژوند په خوږو پوه شمه
یاره ستمګره په دې راز به څوک خبر نه کړم

ته چي زما هر څه هر څه او زه دي هیڅ نه یم
دا خطا به هیچري بدله په باور نه کړم

څه چي را ته وایې خو سایل به را ته نه وایې
جوړ چي په دې ورانو مړو کوڅو کي شور و شر نه کړم

د یو نظر څومره تاوان غواړې
زړه را نه غواړې که ګریوان غواړې

ما له په ستر ګو کي ازغي راکوې
ما نه نغمې د ګلستان غواړې

خدای دي په خپل زړه پسې وژړوه
په باران واوړې چې باران غواړې

زړه ګوره دا نازه به دې یو نه سمه
که د غرور سره جانان غواړې

محبت څه دی جواري د زړونو
خوبونه ته بایلې خوبان غواړې

په دې ګراني کې د خپل سر په بدل
د یار دیدن څومره ارزان غواړې

سایله ته تکمیل د کوم ارمان له
ژوند د لمبو د بیابان غواړې

پای

زه به ځنګل ته نه ځم
انسانیت داسې وي

اې د ادم زامنو
دا اخوت داسې وي

اخر انسان یم زه
غلامي څنګه وکړم

والله که چل یې راځي
برغ به د ننګه وکړم

که نمرودي لمبې وي
که فرعوني خدايي وي

جانــه مــړ بــه دي کــړم
جانانــه مــړ بــه دي کــړم

جانان له مي تصوير چي د نغمو نه جوړوم
فنکار يمه ګلونه د لمبو نه جوړوم

زما په زړه يې وښيندل دا ستا د ياد ګلونه
سپرلي ته هار د اوښکو د دانو نه جوړوم

دا ته زما په مينه خداى زده ولي ګماني يې
زه ستا حُسن د ګلو د وږمو نه جوړوم

انداز دي د ادا لېونى داسي چي قاتل شي
دې ستر ګو له دي توري د نشو نه جوړوم

د رباب نغمو کي وير د ويراني دی
د آدم د ديدنونو چم ويجاړ دی

بلبل پرېږدئ چي زخمونه خپل اوده کړي
باغ د ميني د خزان د غمه ښاړ دی

چي ماضي او مستقبل تري نه داغ نه شي
حقه دا چي په بائيللي سر مو وياړ دی

ته به څنګ شي پکي خوښ نازکه ياره!
د سايل د شعور ټول وطن کاړ کاړ

کیسه کي د نادان ظلم څه داسي بې وسی دي
خزان خپله مظلوم وو شرمبدو د ګل په شونډو

(۷)

چا وخندل خدایه! چي مي خوږ زړه پرې ټکور شو
وریت احساس مي ګل په خندا پاڼي پاڼي خورشو

ستا د خوانو سترګو د خندا په سور سپرلي کي هم
ژوند راته انګار شو زلمیتوب را پوري اور شو

زړه مي دی ستا لاسو کي نظر پري ساته پام کوه
وبه مرم جانانه! که دا جام درنه نسکور شو

نښه شوه رڼا ورځ چي په رقیب هم توره شپه شوه
نښه شوه چي را پوري ستا د پاکي مینی تور شو

